# په افغانستان کی د جاپان سفارت

## رسنیزه خبرتیا

**<u>جاپان په افغانستان کی د طبعی خطراتو پیښو مدیریتی فعالیتونه ملاتړ کوی</u>**

کابل, افغانستان (10 مارچ 2015 کال) – د پیښو پر وړاندی د مبارزی ملی اداری (ANDMA) په ګډون ,د جاپان حکومت او د کډ والوڼ ړیوال سازمان (IOM) یوه توافقنامه امضاء کړه چی تر څو دوی وکولای شی په افغانستان کی د همیشه متاثرو ټولنو د خطر کچه را کمه کړی او همدارنګه د ADNMA ظرفیتونه لوړ کړی ترڅو دوی وکولای شی چی د طبعی پیښو په رامنځته کیدو سره یی ځواب ویونکی اوسی.

دا پروژه به په 36 میاشتو کی د 9.9 میلیونو امریکایی ډالرو په ارزښت وکولای شی چی د کډ والوڼ ړیوال سازمان اوسنی روان فعالیتونه تقویه کړی ترڅو دوی وکولای شی په افغانستان کی هغه خطرونه کم کړی چی د طبعیی پیښو له امله منځ ته راغلی, البته تمرکزبه یی په ټاکل شوو ټولنو لکه هرات, فاریاب, بلخ, جوزجان, سرپل, بغلان, تخار, بامیان, هلمند او کابل ولایتونه وی.

افغانستان په جنوبی آسیا کی یو له هغو هیوادونو څخه شمیرل کیږی چی هرکله د زلزلی, سیلابونو, وچ کالیِ, د ځمکی ښویدو, د شګو طوفان او واوری ښویدلوسره مخامخ کیږی. ملل متحد تخمینوی چی هر کال څه نا څه 250,000 افغانان د طبعی پیښو له امله متضرره کیږی. د 2008 کال د اوسط له مخی هر کال 23,000 خلګ د طبعیی پیښو له امله خپل کورونه له لاسه ورکوی او بیځایه کیږی.

هیله کیږی چی 50 ټولنې به په 10 ولایتونو کی ددی پروژی نه برخه منی شی. د کډ والوڼ ړیوال سازمان به د ټولنو سره د خطر د کموالی په برخه کی کار کوی او همدارنګه د ټولنو د خطرونو پلان ته به انکشاف, د سیمه ییزو خطراتو نقشه او د مخه خبر ورکونکی سیستم به تاسیس کړی. دا انتخاب شوی ټولنی به په ابتدایی پلټنو, د ژغورلو وسایلو سره سمبال شی او همدارنګه دوی ته به د پیښو د خطر پر وړاندی زده کړی ورکړل شی.

د پیښو پر وړاندی د مبارزی ملی اداری رئیس داکتر محمد دایم کاکړ داسی وویل, " دا پروژه به ارزښتناکه خدمتونه لکه د پیښو د خطر کموالیِ, د پیښو پروړاندی مبارزه, د خبرتیا زیاتول او د اړمنو ټولنو څخه حفاظت کول برابر کړی".

د کډ والوڼ ړیوال سازمان (IOM) په افغانستان کی د سیلابونو د مخنیونی دیوالونو (ګبینونو) په جوړولو کی پدی وروستیو کلونو کی په ډیره کچه تجربه لاس ته راوړی او خپلی هڅی به پدی پروژه کی لا هم جاری وساتی. دا ثابته شوی چی ګابیون (استنادی دیوالونه د سیمونو پوښښ سره) دیوالونه د سیلابونو د زیان د مخنیوی زیاته اندازه کامیابه طریقه ده او همدارنګه ددی په جوړولو او آبادولو کی سل ګونو خلګو ته د کار زمینه برابره کړی ده.

دا پروژه به د پیښو پر وړاندی د مبارزی ملی اداری (ANDMA) د ملی کارمندانو ظرفیتونه, په ولایتی او ټولنیزه سطحه کی لوړه کړی. IOM او ANDMA یو بل سره د 2008 کال را پدی خوا د طبعی پیښو د مخنیوی پر وړاندی سره یو ځای کار کوی. ANDMA په افغانستان کی یواځنیِ د لارښوونی او اجراکولو د "هیګو په 2005 تر 2015" پوری چوکاټی بنه لری او ټولی نوی پروژی مستقیماً د هیګو لمړي توب سره ارتباط لری.

د جاپان سفارت شارژدافیر محترم کینچی ماساماتو داسی وویل" د جاپان حکومت د افغانستان د حکومت او خلګو سره په مختلفو برخو کی د طبعیی پیښو د مدیریت په شمول مرسته کړی ده او زه هیله لرم چی دا پروژه به د طبعیی پیښو پر وړاندی د خطرونو د مدیریت ظرفیتونه په مرکزی او ولایتی سطحو لوړ کړی او همدارنګه به د افغانستان خلګ د خطرونو نه په امان کی وساتی.

IOM به طبعی حادثو معلوماتی مدیریتی سیستم (NDMIS) ته انکشاف او ضروری لوازم به ورته برابر کړی او همدارنګه د ANDMA کارمندانو ته به ددی سیستم په باره کی مستقیماً زده کړی ور کړی. NDMIS به فوری او عاجلو عملیاتو د مرکز یو درست او صحیح جزوی. د ANDMA معلوماتی سیستم له لاری به د افغانستان حکومت وکولاشی چی لازیات معلومات او ضروری جوابونه لاس ته راوړی کله چی طبعی پیښه منځ ته راشی.

د جاپان د سخاوتمندانه مرستو له کبله به IOM هڅه وکړی چی خپلی مرستی د افغانی ټولنو سره لا زیاتی کړی تر څو دا ټولنی وکولای شی خپل عادی حالت ته راوګرځی شی کوم چی د طبعیی پیښو له کبله را منځ ته شوی او همدارنګه دا مرستی به راتلونکی کی د پیښو کچه هم رات ټیټه کړی. په افغانستان کی د IOM رئیس ښاغلی ریچارد دانزیګر داسی وویل " مونږ هیله لرو چې دا پروژه به یو موډل وی کېدای شي چی په راتلونکې کې په نورو ولایتونو کې هم تکرار شی".

IOM د 2008 کال را پدی خوا په افغانستان کی د یو میلیونو نه زیاتو بیځایه شویو او طبعیی آفاتو له کبله زیانمن شوو خلګو سره مرسته کړی ده.

د لا زیاتو معلوماتو دپاره، اړیکه دموږ سره:


د جاپان سفارت په افغانستان کی
محترم نعمت الله نعمتی
برېښنالیك: nematullah.nemati@kb.mofa.go.jp
اړیکه: 200 341 796 (0) 93+

د کډ والو نړیوال سازمان (IOM)
محترم ماتیو ګریدون
برېښنالیك: mgraydon@iom.int
اړیکه: 546 100 794 (0) 93+

د پیښو پر وړاندی د مبارزی عالی اداره (ANDMA)
محترم معشوق کلکانی
برېښنالیك: mashuq.afg@gmail.com
اړیکه: 310 031 700 (0) 93+